**د تړون د ورکولو د پرېکړې خبرتیا**

**موضوع:** د آیرکنډیشنونو چمتو او نصبولو پروژې تړون د افغان میګا بیلډ د و دانیزو، سړک جوړونې او لوژستیکي خدماتو شرکت ته د ورکولو د پرېکړې خبرتیا.

د تدارکاتو قانون د دري څلوېښتمې مادې د دویمې فقرې له مخې، په دې وسیله ټولو ته خبر ورکول کېږي چې د افغانستان بانک په پام کې لري، څو د خدماتو لوی آمریت لپاره د آیرکنډیشنونو چمتو او نصبولو پروژې تړون د افغان میګا بیلډ د و دانیزو، سړک جوړونې او لوژستیکي خدماتو شرکت ته ورکړي، چې د 103324 شمېرې جواز لرونکې او اصلي استوګنه یې د کابل ښار، لسمې ناحیې، د حاجي یعقوب څلورلارې کې دی، د تړون ټولیزه بیه – 466,200/ څلور سوه شپږ شپېته زره او دوه سوه افغانۍ ده.

هر هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې په دې اړه کومه نیوکه ولري، کولای شي د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې له حکمونو سره سم، خپله نیوکه د اعلان د خپرېدو له نېټې څخه تر **پنځو (۵) تقویمي ورځو** پورې، په لیکلې بڼه، د دلایلو او مستنداتو په ملتیا، د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې د کابل په **ابن سینا واټ** کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د تړون د عقد کولو په معنا نه ده، او تر هغه چې پورته یاده شوې موده پای ته ونه رسېږي او ورپسې ټول قانوني مراحل بشپړ نه شي، تړون به نه عقد کېږي.

دافغانستان بانک، ابن سناوات،کابل افغانستان/ تیلفون:0093(20)2104146/ ایمیل /info@dab.gov.af:ویب سایتwww.dab.gov.af
شبکه های اجتماعی فیسبوک – دافغانستان بانک / تویتر / @AFGCentralbank – انستا گرامAFGCentralbank -